Ontario

د روغتیا وزارت

# ستاسو د کوویډ-19 واکسین کولو څخه وروسته

2.0 نسخه مارچ 29، 2021

## په راتلونکو څو ورځو کې باید د څه تمه ولرم؟

- په عادي متوقع جانبي عوارضو کې لاندې څه شامل دي: د ستنې کولو ځای کې درد، سوروالی یا پړسوب، ستړیا، سر درد، د عضلاتو درد، لړزه، د مفصلونو درد، اوښتو تبه.
- د واکسین ترلاسه کولو وروسته شدید جانبي عوارض نادر دي. خو بیا هم، که تاسو د واکسین کولو وروسته د دریو ورځو موده کې دننه لاندې کوم منفي غبرګون ولرئ، خپل ډاکټر یا نرس سره اړیکه ونیسئ او یا د روغتون عاجل یا بیړنۍ څانګې ته ورشئ: لړمې، د مخ یا خولې پړسوب، په ساه اخیستلو کې ستونزه، د رنګ زیات پیکه والی او جدي بېخوابي، لوړه تبه (له 40 سانتي‌ګرېد څخه پورته)، تشنج یا حمله راتلل، نورې جدي علامې (د بیګې په توګه، ستنې چوخېدل یا بې حسي).
- استرازنیکا/کوویشیلډ واکسین له ډیر نادر جانبي عوارض سره تړاو لري چې د [Vaccine-Induced Prothrombotic Immune Thrombocytopenia (VIPIT)] په نوم یادیږي. ددې واکسین له تطبیق وروسته د لاندې حالتونو د رامنځته کیدو په صورت کې، روغتیایي مرکز ته مراجعه وکړئ: په ساه اخیستو کې ستونزه، د سینې درد، په پښو او مټ کې د پړسوب یا یخنۍ احساس کول، د خېټې دوامدار درد، سخت سر درد چې لاپسې زیاتیږي او د سترګو تیاره کیدل، د پوستکي پرمخ څو تور داغونه، او د پوستکي لاندې سرې یګلابي نقطې.

## ایا اوس هم باید د کوویډ-19 په باب د عامې روغتیا تدابیر رعایت کړم؟

- واکسین د کوویډ-19 په وړاندې د ځان د حفاظت یوه بله لاره ده. د واکسین د هر ډوز له اخیستلو وروسته باید تاسو د کوویډ-19 په باب د عامې روغتیا اداري تدابیر لکه د ماسک اغوستل، د فزیکي واټن رعایت او د لاسونو مینځل په پام کې ونیسئ.
- د کوویډ-19 علایم وڅارئ او د علایمو د موجودیت په صورت کې، خپل معاینات ترسره کړئ.

## د خپل دویم ډوز واکسین کولو لپاره کله بیرته راشم؟

- د پوره مصوونیت لپاره تاسو د واکسین دوه ډوزونو ته اړتیا لرئ. که دا ستاسو د کوویډ-19 واکسین لومړی ډوز وي، نو دا یقیني کړئ چې د کلینیک یا اړونده سیستم د لارښوونې په اساس خپل دویم ډوز واکسین ترلاسه کړئ. د واکسین د تطبیق چاپ شوی رسید چې نن تاسو ته درکړل شو، د دویم ډوز د ترلاسه کولو په ورځ له ځانه سره راوړئ.